هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU
احمد شاه ((وحدت)) Ahmad Shah (Vahdat) A. E. P. O.

له حيرتانو څخه کابل ته نظامی وسایلو اوموادو په راتگ کی زیاتوالی راغلی

کابل ، میډیا :
میډیا دکابل ولایت دجهادی منابعو په حواله رپوټ ورکړی چی دروان لړیزی میاشتی (قوس) له لړی نیټی څخه وروسته هره ورځ تقریبا ۱۰۰ لاری پوله عسکری موټر په وسلی ، مهماتو او نورو نظامی وسایلو بار دحیرتانو له بندر څخه چی دشوروی په سرحد کی واقع دی ، کابل ته راځی

دمیډیا اداره دعینی شاهدانو په قول رپوټ ورکوی چی دغه نقل وانتقالات دکابل رژیم دملیشه وو دمشهور قوماندان جمعه اڅك ترادارې او کنترول لاندی تر سره کیږی چی په هغی کی په سپکه وسله سربیره ، لری ویشتونکی توغندی او ټانکونه هم لیدل شوی دی.

دپلچرخی په خوا کی درژیم لویه پوځی ډیپو داورلمبه شوه

دکابل ښارڅخه باخبره منابعو رپوټ ورکړی چی پدی وروستیو کی دکابل ښارپه بیلابیلو برخو کی دهونو بی شمیره چاودنی شوی دی چی په نتیجه کی مزدور رژیم ته د سراومال زیات تاوان اوړیدلی دی .
خبر ځای زیاتوی دڅرخی پله په خوا کی مجاهدینو درژیم په یوه لویه پوځی ډیپو حمله وکړه چی ددغی حملی په ترڅ کی په نوموړی ډیپو کی بی شمیره چاودنی وشوی چی دوه ساعته یی دوام وکړ په دغو چاودنو کی څلور پوځی لاری اوبی شمیره ټانکونه داورلمبه شول .
دمجاهدینو په دغو بریالیو عملیاتو کی درژیم لس تنه پوځیان مړه اویو زیات شمیرټپیان شوی دی .

دوهم کال ١٤مه (پرله پسي ٦٦) گڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش دقوس ۲۷مه ، د١٤١٢ هـ ق دجمادي الثاني ۱۲مه د۱۹۹۱ م کال ددسمبر ۱۸مه

به اساس تقاضای مکرر سازمان های طرفدار دیموکراسی ومشکلات مالی :

اموال وزارت امنیت دولتی (خاد) کابل به لیلام گذاشته شده

درصفحه ۸

الحاج مولانا جلال الدین حقاني دگردیز د شهیدانو په یاد یوي غونډي ته په وینا کی :

زموږ سیاست داسلام سیاست دی ، هره طرحه به دعلماوو مخي ته ږدو او د اسلام په تله به یې تلو

په دوهم مخ کي

داقصی جومات پر ضد د اسرائیلو بل یرغلیز اقدام

بیت المقدس :
دنیول شوی بیت المقدس داقصی جومات پر ضد اسرائیلی حکامو په یو بل یرغلیز اوخاینانه اقدام لاس پوری کړی .
دسعودی عربستان دراډیو درپوټ له مخی اسرائیلی مقاماتو داقصی جومات پرشاوخوا کی ۸ لاوډسپیکرونه بند کړی ترڅو داقصی په جومات کی دهغی لاوډسپیکرونو له لاری دخپریدونکو نشراتو په وجه دلمونځ کوونکو په لمانځه کی خلل راپیښ شی .
دیادونې وړده چی اسرائیلی پولیسو څه موده مخکی داقصی جومات یو لړ تاریخی اسناد هم له هغی ځای څخه غلا کړی وو.

په کابل کی دروسی مشاورینو موجودیت

دبگرام له هوایی ډگر څخه دریشخور فرقی ته دلونا راکټونو ددستگاه انتقال

په ۸ مخ کي

په امریکا کي دځان وژني هڅي مخ په زیاتیدو دي

شیکاگو ، دپاکستان ورځپاڼه:
په امریکا کي په کورونو کي دوسلي ساتني له امله په نورومشکلاتو سربیره دځان وژني په میل کي هم زیاتوالي راغلي.
دیوه خپاره شوي رپوټ له مخي ویل شوي چي یوازي په ۱۹۸۸ کال کي په امریکا کي ۲۰۵۹ تنو داسي ځوانانو ځانونه وژلي چي عمریي له ۱۵ څخه تر۱۹ کلو پوري وو.
ددي ډلي څخه ۱۲٦۱ کسانو خپلو کورونو کي دموجودي وسلي په واسطه ځانونه وژلي

یك زندانی نو آزاد شده ازپلچرخی :

وضع صحی زندانیان درمحبس بدنام پلچرخی رقتبار است

درصفحه ۸

گورباچوف په دجیمزبیکر تر راتلو پوري له دندی څخه استعفی ونکړی

مسکو ، دنوای وقت ورځپاڼه :
دنړیوالو خپرو شویو خبرونو له مخی دروسی جمهوررئیس گورباچوف ویلی دی چی دی به مسکو ته دامریکا دبهرنیو چارو دوزیر جیمزبیکر تر راتلو پوری دشوروی اتحاد دټوټه ټوټه کیدو په عواملو کی ځان شریك کړی نوموړی زیاته کړه که دشوروی اتحاد ټول جمهوریتونه وغواړی نودی به دغه نوی مشترك المنافع اداره ومنی خوپخپله به له دندی څخه گوښه شی .

دلاهور په آسیایی لوبو کي دافغانی مجاهدو پهلوانانو گډون

دریو پهلوانانو دبریالیتوب دری مداله ترلاسه کړل

په ۷ مخ کي

آرتش اسرائیل اطراف مسجد اقصی رامحاصره نمودند

مظاهرهٔ مشترك یهودی هاومسلمان علیه جاگزینی یهودیان درمناطق اشغالی

درصفحه ۸

په البانیا کی دخوراکی موادو قلت

البانیا ، فرانس پرنس اژانس:
دالبانیا په شمال ختیزه برخه کی د وږو خلکود یوه هجوم له خوا دخوراکی موادو دتوزیع په یوه ډیپو باندی دحملی په ترڅ کی داورلگیدلو په اثر ۳۰ تنه مړه شول .
رپوټونه وایی چی کیدای شی دمړیو او زخمیانو شمیرتردی هم لازیات شی.
په البانیا کی دخوراکی موادو قلت خبره هغه وخت راپیدا شوه کله چی تیره اونی له خپلی دندی څخه گوښه کړای شوی صدراعظم وویل چی په هیواد کی یوازی دشپږو ورځو لپاره خوراکی توکی شته .

په روسیه کی دکمونیزم تر زوال وروسته داسلامی تحریك پراختیا

مسلمان جمهوریتونه له خپلو اسلامی گاونډیانو سره داړیکو پراختیا غواړی

په ۸ مخ کي

سرمقاله

دقیادتی شورا اوسل کسیزي شوراطرحي دریځونه اونظرونه

په اسلام اباد کی دگینو جهادی تنظیمونواو گواکونو دمشرانو تر غونډی اوپه هغی کی دیوی طرحی تراعلامیدو وروسته په عامه توگه ددغی طرحی اوپه ځانگړی ډول په دغه طرحه کی دیادی شوی قیادتی شورا پر موضوع له یوی خوا اوبلی خوا داعتراض غږونه راپورته شول.
له یوی خوا هغو جهادی قیادتونو اوگواکونوچی په دغه غونډه کی یی دبیلابیلو ملحوظاتو له مخی برخه نه درلوده ، ددغی طرحی اوقیادتی شورا د ردولو لپاره دریگونه اونظرونه څرگند کړل.
دافغانستان داسلامی حزب مشرمحترم مولوی صاحب محمد یونس خالص دبی ، بی ، سی راډیو له خبریال سره په مرکه کی یادونه وکړه چی موږ دقیادتی شورا سره مخالف یو اوداځکه چی ددغی شورا جوړیدل زموږ چاری پرمخ نشی بیولی ، داکاربه نړیوالو ته دااشتباه ورکړی چی مجاهدین نشی کولی چی پر مخ لاړشی ، خو موږته لازمه ده چی پرمخ لاړشو نه داچی په شاراگو اوبیا لکه

په ۷مخ

دمصرد یوې بحری بیړۍ دډوبیدو له امله :

(۵۰۰) تنه مسافر مړه شول

په ۸مخ کي

دصدام حسین پر ضد دکودتاناکامه هڅه

دپوځ یوشمیر افسران اعدام شول

په ۸ مخ کي

برخورد های خونین بین ملیشه های رژیم در هرات

انکار بی شرمانه نجیب از وقوع این حوادث

درصفحه ۸

که په ملگرو ملتونو کي معقولیت واي ، نوباید چي نجیب یي دافغانستان دجنگ اوبربادۍ مجرم بللي واي اوله ملگرو ملتونو نه یي دهغه نماینده شړلی واي

الحاج حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

زموږ سیاست داسلام سیاست دی ، هرطرحه به دعلماوو مخی ته ږدو او داسلام په تله به یی تلو

دروان کال دقوس دمیاشتی په ١٤ مه نیټه په میرامشاه کی دج ، ج محاذ ددفتر مخی ته دگردیز دشهیدانو په یاد یوه لویه غونډه جوړه شوی وه په دغه غونډه کی زیاتو مهاجرو اوانصارو وروڼو گډون کړی ؤ غونډه دسهار په ۸ بجو دقرانکریم دڅو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه اودتلاوت وروسته دافغانستان دجنوبی جبهاتو عمومی قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی اویو شمیر نورو علماوو ویناوي وکړي چي دادي لنډ گزارش يي لوستونکو ته وړاندي کوو.
(اداره)

الحاج مولوی جلال الدین حقانی، په خپله عالمانه وینا کی دکمونستانو دناوړه اعمالو څخه پرده پورته کړه او هغه قرآنکریمونه چی کمونستانو سوځولی اوپه گولیو ویشتلی ووخلکو ته وښودل شول،حقانی صاحب دخپلو خبرو ته ترڅ کی وویل:

«... کمونستانو قرآنکریم توټی توټی کړی ، جوماتونه یی وران کړی اودلرگیو څخه یی روسانو ته موضع گانی او کوټی جوړی کړی دوی بېدین ته ، افیون وایه دخدای (ج) دوجود څخه یی انکار کاوه دروژی پوری یی خندا کوله . کمونستانو په خپله جریده کی دپیغمبر (ص) پوری له توهینه ډك مضمون چاپ اوپه لیېن باندی یی درود وایه .

همدغه علت ؤ چی عالمانو فتوی ورکړی اودجهاد اعلان وشو چی تر اوسه دهمدی فتوی په اساس موږدیونیم میلیون څخه زیات شهیدان ورکړی دی داسوځیدلی قرآنکریمونه،چی تاسی گورئ داهمدغو کموستانو سوځولی اوپه گولیو ویشتلی دی اوهمدغه کافران تراوسه پوری په قدرت باندی پاتی او موجود دی نودجهاد فتوی اوس هم نافذه ده ، حقانی صاحب وویل په افغانستان کی نجیب تر اوسه پوری هغه سړی دی چی دکارمل په وخت کی په افغانستان کی دکی ، جی ، بی داستخباراتو (دستگاه خاد) رئیس ؤ اودژوری دجگړی څخه دمخه دافغانستان دمزدور رژیم رئیس جمهور دی اواوس هم دی په پاکستان کی چی څومره بمونه چاودیدلی دی څومره چی په سرحدی سیمو کی په بمباریو خلك مړه شوی دی اوڅومره چی په افغانستان کی په بمبارد ، توپونو گولیو او بندیخانو کی خلك مړه شوی دی داټول دنجیب دلاسه شوی دی.

عزتمندو وروڼو! جهاد په افغانستان کی روان دی ، شهیدان په هغه حال شهیدان دی په هغو ځایونو کی چی دکفر سلطه وی په هغو خلکو هجرت فرض دی ټول احکام یی برحال دی دالله (ج) په لار کی سرورکول او ټول احکام چی ۱۳ کاله دمخه وواوس هم په هغه حالت دی .

دوهمه خبره داده چی دملل متحد تبلیغات هم دځینو خلکو جهاد نه پاتی کولو کی موثر واقع شوی دی دا ډیره لویه خطره ده.ملل متحد (٥) فقره ایز پلان وړاندی کړی چی دافغانستان مسله به دخبرو دلیاری حل کیږی اووایی چی په مجاهدینواو نجیب دواړو به کومك بندیږی دوهم داچی دملل متحد دتظمین له مخی به اوربند کیږی دریم داچی یووسیع البنیاد حکومت به جوړیږی یعنی داچی کافر منافق کمونست اومسلمان ټول په کی راشی اودوه نوری مادی یی فرمایشی دی داپلان په حق بنا نه دی ځکه په مجاهدینو کومك بندول دالله (ج) دحکم خلاف دی،ترڅوچی کافر په قدرت کی وی جهاد به جاری وی اوالله (ج) به دوعدی له مخی دمجاهدینو سره مرسته کوی.

دوهمه ماده داوربند هم غلطه ده ځکه زموږ مقاومت جنگ نه بلکه جهاد دی اوجهاد په مسلمانانو فرض دی مسلمانان مکلف دی چی دکفارو په مقابل کی جهاد وکړی پاتی شوه دحکومت دجوړولو خبره نو دافغانستان مسلمانانو چی داڅومره قربانی ورکړی او اوس یی هم ورکوی ددوی مطلب په افغانستان کی یو اسلامی حکومت جوړول دی داسلامی حکومت نه غیر بل

زموږمقاومت جنگ نه بلکه جهاد دي ، اوجهاد پر مسلمانانو فرض وي ، مسلمان مکلف دي چي دکفارو په مقابل کي جهاد وکړي

حکومت مجاهدینو ته دقبول وړنه دی.

عزتمندو انصارو،علماوو! دپیغمبر (ص) په لښکر کی هم منافق موجود وو چی دپیغمبر (ص) لښکر تری نه صفا کیده ، نو زموږ عاجزو مجاهدینو او انصارو لښکر به تری څنگه صفا شی خو دلته اهل دین اواهل علم خلکو جهاد کړی ، شهیدان یی ورکړی لکه مولوی صاحب وارث خان چی شهید شو طالبان یی شهیدان شوی هرجنگ چی شروع شوی نو زموږ احتیاطی قواوی همدغی مدرسی وی دغه طالبان اوعالمان چی نیك خلك دی اوددوی بچیان زموږ سره په هرجنگ کی شریك شوی دي دلته یی مهاجرو ته پناه ورکړی ده اوپدغو جلسو اوتبلیغ اودجهاد په تحریك کی اودباطل په تردید کی یی زموږ سره همکاری کړی نوزه دالله (ج) څخه سوال کوم چی پروردگار عالم دی قبایل مجاهدین،انصاراوبیا داعلماوحاضرین په سعادت ددارینو باندی مشرف کړی الله (ج) دی جنت فردوس نصیب کړی دشهیدانو درجی دی الله پاك بلندی کړی ددوی علماو ، طالبان ددوی مشران کشران اوشهیدان اودمهاجرو دی الله (ج) جنت فردوس نصیب کړی .

دلته اهل دین او اهل علم خلکو جهاد کړي ، شهیدان یي ورکړي لکه مولوي صاحب وارث خان چي شهید شو ، اوطالبان یي شهیدان شول ، هرجنگ چي شروع شوي نو زموږ احتیاطي قواوي دهمدغي مدرسي طالبان دي .

کومی خبری چی موږ وکړی علماوو کرامو ته معلومی دی ، صرف په دی خاطر مو وکړی چی وروڼو ته اطمینان پیدا شی چی دادخدای (ج) دلاری جهاد دی اودابه په افغانستان کی ترهغی پوری روان وی ترڅو دکمونیزم تغر په افغانستان کی ټول شوی نه وی اوپر ځای اسلامی بیرغ پورته شوی نه وی .

بله خبره داچی کومی دوکی اوفریبونه چی په اوسنی وخت کی روان دي دجهاد دخنثی کولو دپاره دجهاد دورکولو دپاره اودمجاهدینو دنوم ورکولو دپاره دوی غواړی چی یو داسی حکومت منځ ته راوړی چی دمجاهدینو نوم په کی ورك شی،دجهاد سلسله په کی ختمه شی ځکه دوی دجهاد څخه ویریدلی دی په شوروی کی څو جمهوریتونه دافغانستان دجهاد له برکته آزاد شول په فلسطین کی دافغانستان دجهاد له برکته نوی انقلاب روان دی په کشمیرکی انقلاب روان دی اوپه ډیرو نوروهیوادونو کی داسلسله روانه ده نو دښمنان غواړی چی دلته جهاد خنثی کړی او خلکو ته وښیی چی دجهاد نتیجه هیڅ وه،عزتمندو وروڼوازه تاسو ته اطمینان درکوم چی داحق،جهاد دی اودا جهاد به روان وی په دی لاره ډیر علماء شهیدان شوی

پاتی په (۷) مخ

سرنوشت غم انگیز گورباچوف درپرتو تجزیهٔ شوروی

سمیع الله «تازه»

کودتای کمونستان تندرو دراتحاد شوروی ان جال ماهیگیری گورباچوف راکه میخواست تادموکراسی را دربحرطوفانی مردم دربند بسته شوروی ارام ارام وطور دلخوا ازاد سازد ،ازهم گسیخت وهمه ان توده هایی را که سالهای زیاد درین جال گیرمانده بودند خلاف اراده کرملین از ان تور وحشتناك نجات داد.

حوادث وتغیرات در اتحاد شوروی بعد ازان واقعه نه تنها بسیار سریع وتند بود بلکه انچنان بزرگ بودکه وقوع ان دریك زمان کوتاه افسانوی بنظر میرسد .

این تغیرات ابعاد وگوشه های زیاد دارد که هر بخش ان سزاوار بحث زیاداست اما اینبار ما از سرنوشت گرباچف که خودطراح بازسازی فکری واقتصادی اتحاد شوروی بود سخن داریم .

روسها بخصوص تعدادی از رهبران شوروی بعد ازشکست قوای نظامی شان درافغانستان متوجه شدند که سیستم دولتی شان درطول هفتاد سال سخت پوسیده شده وموجب عقب مانی از کاروان تمدن بمقایسه رقبای خود شده است ونیز بخاطر استتارشکست خود درافغانستان وبخاطر ایجاد تحرك اقتصادی واجتماعی لازمی دیدند شرایطی را بمیان اورند که تحت عنوان ان بتوانند هم چوکات دولتی که متشکل از نژاد ها وملیت های متعدد بود حفظ گردد و از طرفی هم در روند انکشافی کشور تحرك مثبت وجدید ایجاد گردد.

گرباچف که جوانتر در میان گروه افراد سالخورده رهبری روسیه بود رهبری اتحاد شوروی رابدوش گرفته مسؤولیت پیاده نمودن روند «پرسترویکا » و « گلاسنوست » یعنی «بازسازی» و«فضای بازسازی » رابه عهده گرفت .

گرباچف امیدوار بود تحت عناوین مذکور به چوکات پوسیدهٔ بنام اتحاد جماهیر شوروی روح تازه بدمد اما غافل ازین بود که این چوکات انچنان فرتوتست است که نمیتواند روح جدید را با ارزوهای استعمار گرانه قدیم حمل نماید .

جمهوری های تحت استعمار روسها گام به گام بسوی دموکراسی گام برداشته وبخصوص مردمان تحت سلطه وستم کمونست ها با قبول قربانی به چوکات کهنه دولتی که کمونستان جبراً ان را اعمار نموده بودند صدای «نه » بلند نمودند که درین زمره مردم جمهوریت اذربایجان نخستین قربانی را بخاطر ازادی از کمونستان وحشی روس اهدانمودند .

تا هنگام کودتای کمونستان،گرباچف باز هم قهرمان صحنه بود وبانی تمام ان تغیرات مثبت بسوی دموکراسی درشوروی محسوب می شد ولی بعد از کودتایلتسن این کمونست دواتشه سابق در محراق توجه قرار گرفته در تغیرات بزرگی که در روسیه شوروی رخداد عملاً مستقل از گرباچف رول ایفا نموده واضح ساخت که دیگر رول گرباچف در روند تغیرات سریع شوروی کاسته شده ومراکز جدیدقدرت بمیان می ایند که یکی ازان خودش میباشد .

بروز یلتسن باایجاد اتحادیه کامنویلت میان جمهوری های روسیه ،سفید ، روسیه واوکراین بااوج خودرسید درمرکز این اتحادیه جدید که در اوج موجهای ازادی خواهی جمهوری های سابق شوروی اعلان گردید خود یلتسن قرار خواهد داشت ، بااینگونه فعلاً سوال اینده وسرنوشت گرباچف جداً مطرح است ، زیرا موصوف اکنون عملاً براداره‌ٔحکومت می کند که هیچ کشوری تحت حاکمیتش نیست ،جمهوری ها هریك مستقل شده وهریك دارای یك رهبر مستقل میباشد .

گرباچوف درهفته گذشته گفته بود که با ایجاد کامنویلت جای برایش باقی نمی ماند ناچاراست استعفابدهد ولی در هفته جاری تصمیم خود را عوض نموده گفته است که دررهبری صرف بنام شوروی باقی مانده وکنترول سلاح اتومی واردوی شوروی را بدست گرفته در تقسیم مسالمت امیز جمهوری ها از شوروی رول مثبت ایفا نماید .

تاهنگامیکه گرباچف درمراکز تغیرات قرار داشت سخت مورد توجه مطبوعات غرب بود ولی اکنون اورا فراموش نموده روبه سوی یلتسن نموده اند ، غرب ازین خوشحال است که رقیب بزرگ شان تکه وپارچه شد ولی اکنون توجه شان روی اینست که لاش سلاحهای اتومی نصیب چه کسی میشود .

گرباچف واقعاً نمیداند که چه بکند زیرا دستگا ، کریملن هیچگاه فکر نمیکرد که روزی امپراطوری سیاه کمونستی اینگونه به مفت تکه وپارچه میشود ازهمین سبب است که موصوف تصامیم ضد ونقیض اتخاذ می نماید .

اما موصوف ناگزیر است روزی استعفابدهد این عمل موصوف بمثابه اخرین میخ بر تابوت کمونیزم جنایتکار در جهان خواهد بود .

دافغانانو جهاد،دروسیی امپراتوری د ټوټه‌ټوټه کیدلو اساسي عامل

سید شهریار

دایو څرگند اومنلی شوی حقیقت دی چی لرغونی افغانستان همیشه دهر ظالم اوجابر یرغلگرلپاره دمرگ ماتی اورسوایی سبب گرځیدلای .
په بیلا بیلو وختوکی چی کله هم دوخت هر خونی استکبار دلرغونی افغانستان

روسانو له تیښتي څخه وروسته هم خپلي اقتصادي اونظامي مرستي له مزدور رژیم څخه ونه سپمولي بلکه خپلو مرستو ته یي لاچټکتیا اوپراختیا ورکړه چي همدغه کار شوروي اتحاد ته دومره زیاتمن ثابت شو چي جبیره یي ورته ناممکنه وگرځیده

دنیونی او یاهم دخپل شیطانی دام په لومو کی د ښکیلولو لپاره بلوسیدلی دی نوخپل زور قوت اودبدبه بی دخپله لاسه ټوټه ټوټه اوخاوری ایری کړی ده .
بالاخره یا له دغی لرغونی اوکفر ځپوونکی سیمی څخه په شرمیدلی تیښته بریالی شوی او د افغانانو دښکلیولو ارمان یی له ځانه سره گورته وړی چی په ډاگه ثبوت یی دغه څو لسیزی وړاندی په افغانستان کی دانگلیس شرمیدلی ماته ده چی نن هم دانگریزانو په مغزو کی چور لکونه وهی .
انگریزانو ته له شکست ورکولو څخه وروسته لا دافغانانو سمه دمه هم نه وه جوړه شوی چی دوخت یو بل ستر طاغوتی سور شیطان «شوروی اتحاد» دخپل پخوانی شوم پلان له مخی لومړی په ۱۳۵۷کال دثور دبدمرغه کودتاه په نامه په افغانستان تیری وکړ او دافغانانو دارام او دخوښیو څخه ډک ژوند یی په ویر ، ماتم ، اوښکو ، وینو ، زگیرویو او دغه داسلام ، امن اوامنیت سیمه یی ږرگهودیو او دانسانانو په قصابخانه وربدله کړه .
په افغانستان کی دروسانو دغو په ډاگه لاسوهنو میړنی افغانان دی ته اړ کړل چی دا وار بیا خپله زنگ وهلی توره دسره استعمار اواستکبار په ناولو وینو سره کړی نو همغه وه چی د هر لوری څخه دباطل پر ضدحق پاڅون اعلان شو .
روسانو چی په افغانستان کی دخپل لاس کینولی او مزدور رژیم بد حالت اوله شرمه ډکه ورځ ولیده نود۱۳۵۸هـ ش کال دجدی دمیاشتی په شپږمه نیټه یی په افغانستان مستقیم یرغل وکړ اودافغانانو دعامه وژنی لپاره یی دافغانستان گوټ ،گوټ ته سری یرغلگری لښکری ورمارش کړی ، دغه وخت افغانان له یوی داسی ناانډوله اوتپلی شوی جگړی سره مخامخ شول چی دافغانستان گټه اولوټه یووار بیا په سرو وینو ولمبیده هری خواته دگولیو اوبمونو دندو کار جوړ شو او داوبو پر ځای دوینو ویالی وبهیدی.تش لاسوافغانانو دکفر اوالحاد په مقابل کی یوی داسی بی ساری مقاومت پیل کړ چی دروس په څیر دنړی ستر طاغوتی ځواك یی له یو داسی شرمیدلی ماتی سره مخامخ کړ چی دگردی نړی اوپه خاص ډول دښکیلو شویو ملتونو لپاره دعبرت درس وگرځید .
روسان دبی دریغه وینو توبولو څخه تقریباً اته کاله

هو: په نړۍ کي دروسیي امپراطوري دټوټه ټوټه کیدو سبب دافغانانو بي ساري مقاومت ؤ چي دنړي مظلومو اوبي وسه ملتونو ته یي له خونړي سره استکبار څخه نجات ورکړ

وروسته دافغانستان نه ظاهراً دجنیوا د تش په نامه تړون له مخی په شا شول چی هدف یی صرف اوصرف روسانوته دوړوپوزه کیښودل ؤ روسانو له تیښتی څخه وروسته هم خپلی اقتصادی اونظامی مرستی له مزدوررژیم څخه ونه سپمولی بلکه خپلو مرستو ته یی لا چټکتیا او پراختیاورکړه چی همدغه کار شوروی اتحادته دومره زیاتمن ثابت شو چی جبیره یی ورته ناممکنه وگرځیده .
په ظاهره خودشوروی یرغلگری لښکری دافغانستان څخه په ماتو گوډ و پښو وتښتیدی خو هغه تپ کوم چی دمیړنیو افغانانو دتوری دگذار له برکته په سره استکبار لگیدلی ؤ دتیښتی څخه وروسته هم دجوړیدو پر ځای دلازیاتیدو سبب وگرځیده ځکه روسان په ډیر لږ وخت کی دهمدغه ظالمانه تیری اویرغل له املـه دنړیوالو دروازو ته دخیرات لپاره ودریدل او دغربیانو او اروپایانو هره ښه او بده یی دخیرات ورکولو په مقابل کی دسر په سترگو ومنله ، خو بیاهم دافغانستان دمظلوم ملت دتکبیر ملکوتی نعرو ددوی ارام په ناارامی او امنیت په بی امنیتی وربدل کړ . هغه شوروی اتحاد چاچی پکی له ویری سوږ هم نشو کولی دناارامیو ، گډوډیو او اغتشاشونو مرکز وگرځید چی په ډیر لږ وخت کی تری دبالټیك جمهوریتونو خپله ازادی اعلان کړه . وروسی دمنځنی اسیا اسلامی جمهوریتونو دخپلواکی په لور یون پیل کړ چی ځنی یی دروسی امپراتوری څخه خلاص او ځنی یی اوس دغلامی اواسارت زولنی ورماتوی او نږدی ده چی ډیر زر دمنځنی اسیا «تهول له روسیی سره په جبر تړل شوی »جمهوریتونه له خپل ازاد حیثیت سره دنړی په

په ۹مخ کي

قدرت اتمی روسیه خاتمه می یابد

ترجمه وتخلیص : احمد سعادت

طوری معلوم می شود که قدرت اتمی روسیه حتماً خاتمه می یابد ، گورباچوف برنده جایزه نوبل درحالتی قرار دارد که آخرین مراسم جسد اتحاد شوروی راکه تادیروز به مشابه یك نیروی هیبت ناك درروی کره ارضی وجود داشت انجام میدهد ، نیروئ که بخاطر جنگ اتمی درفضا آماده گیری میکرد حتلی که امریکا ازآن درهراس بسر می برد .
گورباچوف بخاطر اتحاد روسیه کوشش نمود تایك اتحاد سیاسی واقتصادی رادرمیان یك عدهٔ جمهوریت های آن کشوربوجود بیاورد اما ریفرا ندم اوکراین برای وی پیغام مرگ ثابت گردید مردم اوکراین به آزادی وحق خود ارادیت خود مهرتوثیق نهاده به شکست اتحاد جماهیرشوروی سرعت بخشیدند.
گورباچوف علیحدگی اوکراین را مترادف به برپاشدن قیامت درروسیه وخانه جنگی درمیان جمهوریت های آن کشور دانست رئیس جمهور منتخب جدید اوکراین درمقابل هشدار گورباچوف بی اعتنایی نشان داده وهر گونه اتحاد جدید رابا دولت مرکزی خارج ازامکان قرار داد.
رئیس جمهور اوکرائن رئیس جمهور امریکا ودیگر کشورهای اروپایی میخواستند تا گورباچوف موفق گردد که نوع از اتحاد رادرمیان ریاست های روسیه

طبق اطلاعات وزارت دفاع امریکا ، در سراسر شوروي ٢٤٥ فرقه نظامي وجود دارد که از آن جمله ۷۱ فرقه درفدراسیون روسیه و۲۰ فرقه آن دراوکراین است

گورباچوف را منحیث شخصی می نگرد که قدرت وی خاتمه یافته است ،او میگوید گورباچوف مانند صاحب کاروانی است که همه منتشر شده است وفعلاً درحالتی قرار دارد که بادرهم پاشیدن اتحاد شوروی از صحنهٔ سیاست دورخواهدرفت.
ازآنجائیکه روسیه روز بروز به طرف هلاکت وتباهی گام سریع میبردارد باعث تشویش حلیف های اروپایی اش گردیده است درظاهر بُش بر قرار کنند وقتیکه گورباچوف مصروف پلانهائی بود که روسیه را از تباهی کامل نجات دهد امریکا وهم پیمانانش اوضاع رابدقت بررسی میکردند در ماه اگست گذشته زمانیکه بُش به روسیه سفر نمود مردم روسیه راازیك جنگ تباه کن ملیت پرستی هشدار داد.
اکنون که تباهی کامل روسیه ناگزیرگردیده است اسلحه اتمی اوکراین باعث تشویش امریکا ودیگر حلیفان اروپایی اوگردیده است اکنون خواهش وی آن است که اوکراین باید راجع به تخفیف اسلحه به معاهده واشنگتن و روسیه احترام گذارد امریکا درسطح بین المللی از وقایعی ایکه درآینده رونما میگردد سخت درتشویش است آزادی آذربایجان برای باراول خواب اوراحرام کرد .
بعد ازهم پاشیدن شیرازه های روسیه مقتدر مرکز اتحاد وقدرت جدیدی درشرف رویکار شدن است که با مقتضی پلانهای جدید علمی استوار می باشد.
لذا هنگام خاتمه کامل شیرازه های اتحاد جماهیر شوروی همه نیروهای جهان درحال ترصد اند .
مردم اوکراین همه امید های گورباچوف رانقش برآب کردند ، آینده تمام کشتی های جنگی روسیه دربحیره اسود در معرض خطر قرار گرفته است اوکراین امیرترین ودومین جمهوریت شوروی است وازلحاظ وسعت نسبت به فرانسه بزرگتر است این جمهوریت دارای همه آن صلاحیت های می باشد که درآینده به حیث یك کشور آزاد ومستقل عرض اندام کند .
پارلمان اوکراین میخواهد که نیرویی رامتشکل از چهارلك وبیست هزار نفر ازبخش بحری و فضایی تشکیل دهد تابتواند امنیت داخلی وخارجی آن کشورجدید التشکیل راحفظ نماید مطابق اطلاعات وزارت دفاع امریکا در اتحاد

چند روز قبل رادیکال هاي نظامي روسیه درنزدیکي مسکو کنفرانس بین المللي رابرگزار کرده بودند ، درکنفرانس سوالاتي مطرح شد که باعث تشویش شرکت کننده گان غربي درکنفرانس گردید

شوروی ٢٤٥ فرقه نظامی می باشد که ازآن جمله ۷۱ فرقه درفدراسیون روسیه و ۲۰ فرقه آن دراوکراین است در روسیه ۱۰۳٦ فیر میزائیل اتمی وجوددارد درحالیکه ۱۷٦ فیر دیگر دراوکراین می باشد ازآن جمله ۱۳۰ آنرا با شروع عملی نمودن معاهده تخفیف اسلحه قرار بود که روسیه ازبین ببرد ولی معلوم نیست که از جمله هزار هامیل اسلحه اتمی روسیه در اوکراین چه اندازه است باآزادی اوکراین اکنون معلوم نیست که آینده ابدوزهای روسیه در بحیره اسود چه خواهد شد؟ به این ارتباط اکنون هیچ چیزی گفته نمی شود.

چند روز قبل رادی کال های نظامی روسیه درنزدیکی مسکو کنفراس بین المللی رابر گزار کرده بودند درآن کنفرانس سوالاتی مطرح شد

بقیه درصفحه ۹

هرڅومی که په کور کی خزانونه اړولي
په تمه او اسره دیوه بهاد باندی ورځم
دشپو ښامارمی لاره ده ډب کړی دمزلونو
خوبیرته نه ستنیږم په ښامار باندي ورځم

لنډه کیسه

زما دالی

دسیدعبدالمنان لیکنه

دکور ماته دروازه اودختهو نړیدلی دیوالونه یی سترګو سترګو ته کیدل ، سوچونه ، فکرونه ،اودخپل ژوند کړلیچونه یې ؤ چی زړی خوړې او ترخې خاطرې یې وربه زړه کولې دکوچني توب بې غمه ژوند ، ورپسې دپلار مرګ ، دیتیمی زیږه اوترخه څپیړه دبې وسی ، او ناداری شپې ورځې ، دزلمیتوب دوره دکشرو خویندو اوکوچني وروردسرپرستی غمونه ، دمزدوری پسی یوه خوااوبله خوا لالهانده ګرځیدل ، ایران ته روانیدل دمور نصیحتونه دغه ټول یادونه یې په ذهن کې داور دسپرغیو په شان بادیدل ،یوه یوه خاطره به یې له نظره تیروله فکر به یې کاوه چې په موټر کې نه دکور په منځ کې ناست دي دکورپه منځ کې لاڅه چې دمور ، دوه خویندواویوه ورور په منځ کې ناست دي اودخپلې مسافری کیسې ورته کوي په ایران کې چې پرې څه تیر شوي ، ټکې په ټکې ورته لګیا اودزړه خواله ورسره کوي ، خو کله به چې دسرویس جټکې او یادپولیسو دپلټنې دځای غالمغال او هاهوی ، داوږدو سوچونو لړی وروشلوله ، نو سربه یی دموټر دشیشې څخه رابهر کړ.غږ به یې کړ:
کلینډره ، وه کلینډره، وروره پام کوه ، که زما پنډوکې لتهوي ، ما دروغواړه زه به یې ورته خلاص کړم ،څه شی ترې ورك نشي ، دورکې خبره به یې په وروځانه سره زمزمه کړه بیا به یی دخپل جیب پیسو ته دسترګو دلاندې وکتل دسیټ ملګرې دسرویس سپرلیو ته به یې په وار وار وکتل غلې به پخپله چوکۍ کیناست .

په جلال اباد کی کوزشو په اډه کی دخپلی علاقداری دلین موټر ته وخوت موټر روان شو لوړی او ژوری یی وهلی خو ده نه په جلال اباد اونه دخپل وطن پدی موټر کی څوك اشنا لیده خدای خبر ولی ده ته څوك اشنا نه ښکاره کیدل که هرڅومره به یی سترګی وګرځولی خو سترګو به یی په چا نه خوږیدی دخپل ځانه سره به یی تیره کړه .

لکه چی هر چا دجهاد سنګر ته دنګلی دی. زما دکوربه څه حال وی ؟ چیرته خوبه تللی ، نه وی ؟ نه چیرته به ولاړ شی ، امیر جان خوبه هم دومره نه وی چی پخپل سرچیرته ولاړ شی ،نه نه ماته به خامخا ماتل وی او... څه خدای پاك (ج) دی خیر کړی له هرڅه نه خیر بهتر دی ...

قادر خان دری کاله وړاندی ایران ته په ډیرو هلو ځلو اوسختو کړاؤنو دمجبوری اوبی وسی له لاسه دمزدوری لپاره تللی ؤ په هغه وخت کی دایران دمزدوری ډیر باب ؤ ، هرچا به دایران دمزدوریو اوګټو صفتونه کول دغو صفتونو به دقادر خان زړه هم تخنا وه ، غریبی دی ورکه شی ویل به یی ممکن دغه دایران دمزدوری سره می لړی لاړی تیری شی سږکال خوهغه لوونه هم نشته رښتیا هم دغه کال ډیر سخت ؤ ، سختنه وچکالی وه که خپله ځمکه یی نه درلوده،نو دنورو دځمکو هم خوند نه ؤ.

قادرخان چی ته هغه وخت لا په وطن کی کراره کراریوه په فکر کی یی هم داخبره نه ګرځیده چی وطن به دخلقیانو اوپرچمیانو له لاسه ورانیږی اوموراوزوی به سره ورکیږی کال به یی لاپوره کړی نه ؤ چی خلقیان اوپرچمیان واکداران شول .

په نن سبا کی پری په ایران کی دوه کاله نور هم تیر شول ، بس دکور لخوا خطونوبه یی زړه ډاډه کاوه چی روغ جوړدی ، ډیری ورځی به یی له ځانه سره ګرځول ، په څو څو واره به یی لوستل ، دخط په لوستلو به ډیر خوشحاله ؤ وبی به یی ښه ده چی دادپنځم صنفه پوری سبك خومی ویلی دی که نه نواوس به دچا پسی ګرځیدی خدایزده نور به یی لا څومره وخت تیراوه ، اوکله به یی وطن ته دراستنیدو اراده کوله چی دکور لخوا اخری خط یی دزړه اندیښنی اوپه وطن کی دناکراریو اشتباهګانی رښتیا وګرځولی په خط کی یی ورته لیکلی ؤ ډیره ناکراری ده شپه او ورځ جګړی وی خلقیان او روسان اوړاو زوړ نه پیژنی لیونی سپی دی له وطنه چاکډه په سر کړی او چا دجهاد سنګرتود کړی ته څه خبریی چی په مورڅه تیریږی ؟ که رانغلی ډیر به وزور یړواو ...

وطن ته راروان شوی ؤ وطن ته رااوښتی ؤ ځای په ځای له سختوکړاوونوسره مخامخ شوی ؤ پخپل وطن کی به یی په هر ځای کی په بډو ورکولو ځان خلاصاوه زړه به یی ډیرو دردید چی دخپل لاس دتنهاکو پیسی به یی دکوم بی دینه په لاس کی دسور مخو لپاره کیښودی ، اوږدی مزلی وی څه اوږدی وبی اوڅه ځای په ځای پلټنو اوږدی کړی وی ، څومره به چی رانږدی کیدو اندیښنی به یی زیاتیدی اوس نو بیخی رانږدی شوی ؤ هغه ویالی اوپولی ورته له ورایه ښکاریدی په کومو به چی ده خپله غوا ، کله ناکله څرولــه ، لوړی او دنګی دتوتانو اوانګرانو ونی دانګور تاکو سره سوځیدلی وی خو ده په موټر کی له ویری سوږ هم نه شو کولی ، چوپه چوپتیا او سړه سمخه وه سرك کندی کوندی شوی ؤ ، پیشونه لیدل کیده دموټر دکوزیدو نه وروسته کابو ډیر مزل ؤ ، قادرخان دکور پلو په ګړندو ګړندو قدمونورهی ؤ دخپل کنډرکور په دروازه کی دخپل پنډوکی سره ودرید ، دکور هغه ماته دروازه کومی چی دده په حافظه کی ځای نیولی ؤ هم نه وه شاوخوا ونی شنه لوخړه شوی وی لوړی لوړی قلاګانی په کنډوالو بدلی شوی وی ، دکوتهو دداګو سرونه یی بوټ بوټ راوتلی ؤ ویرانه ویرانی وه ، نه یی کور شته اونه مور چیغه یی کړه ، موری وه موری ... چا ځواب ورنکړ بیا یی چیغه کړه .

امیر جانه ... وه امیرجانه ... هم چا غږ ورنکړ په همدی چیغو کی دکور په منځ کی ودرید هیڅ نښته دانسان نوم نښته ، لکه چی مرګو راغلی وه یواځی پدی کلی نه دوطن په هر یو کلی او کورراغلی وه،ځان ته یی وکتل کلی ته یی وکتل کور ته یی وکتل په تعجب کی شو ، داکلی دښکلا خندا او خوشحالی کلی دغه کور دمینی محبت اوشفقت کور په دی حال ولا که خومی داورځ دربانډی پیرزو کیږی .

قادر خان ته دایران مهاجر

پاتی په (٦) مخ کی

مره تمه

شفیقی

وینو ته موټري دیو ، سم زموږ په ښار پروت دي
سترګي غړوی نشم ، سترګو کي مي خار پروت دي
جوړداز مویښبت ډګر ، دي په دغه مینه کي
هر منصوري سر زموږ ، وګوره په دار پروت دي
کومه تانده وینه وه ، وڅڅیده تویي شوه
ولاړه څمکي وخوړه ، غم یي په ماخوار پروت دي
لمر څه پښه نیولي دي ، څنګه یي څرك نه لګي
چیرته زولانه شوکه ، نس کي دښامار پروت دي
شپي څومره اوږدي شولي ، توري شوي تیاري شولي
داموږیوه مره تمه ، تل کي یي سهار پروت دي
ښه یم چي په وینو کي ، خولم یم لمبیدلي یم
دامي دپت نښه ده ، دي کي مي وقار پروت دي
ډنډ شوله ، سیلاب شوله ، ډوب شول فرعونان پکي
وینه مي که تویي شوه ،غټ پکي غدار پروت دي

دنور ځلی

ژباړه ش ، طاهر

په دنیا کی چی کوم پاچا یا امیر دخپل ریاست اوسلطنت په چارو کی دومره مشغول وی چی لمونځ تری پاتی شی اوپه وخت یی ادا،نکړی نودقیامت په ورځ به دغه پاچا دلمانځه دنه ادا،کولو عذر دلوی خدای (ج) په حضور کی داسی بیان کړی :

ای الله تاسو ماته پاچاهی اوسلطنت رابښلی ؤ ماپه دنیا کی دومره مصروفیتونه درلودل چی دسرپورته کولو وخت هم نه راته پیدا کیده نولمونځ به می څنګه اوڅه وخت ادا،کړی وای.

حکم به وشی راوغواړی سلیمان علیه السلام کله چی سلیمان (ع) حاضر کړای شی نوویه فرمایی الله تعالیٰ

وګوره داهم یو پاچا ؤ دده سلطنت ستا دسلطنت نه څو چنده زیات ؤ خو ددومره لوی سلطنت اوددومره ډیرو مصروفیتونو سره بیا هم سلیمان (ع) خپل لمونځ نه دی پریښی نو ستا داخبره دروغ اوبی ځایه ده چی ماته دډیرو کارونو له امله فرصت نه ؤدسلطنت چاری که دلمانځه په وجه وروسته پاتی کیدای نودسلیمان (ع) څخه به پاتی شوی وای بلکه داستا غفلت لتهی اوسستی وه نوویه فرمایی الله تعالیٰ ای ملائکو ؤلی غورځوی جهنم ته .

بل دلمانځه لټ به دناروغی هیله وړاندی کړی: ای الله تعالیٰ ناروغه وم دډیرتکلیف له وجی می لمونځ نشو ادا،کولی الله تعالیٰ به وفرمایی راوغواړی ایوب (ع) حضرت ایوب (ع) به حاضر کړای شی الله تعالیٰ به وفرمایی ایا ته زیات ناروغه وی اوکه زموږ ایوب (ع) کلونه ، کلونه دده په بدن کی چینجی پراته ؤ خویوه لحظه هم دخپل عبادت نه غافل نه ؤ که دناروغی له وجی لمونځ پاتی کیدای نودایوب(ع) نه به پاتی شوی ؤ معلومه شوه چی ته دروغ وایی ای ملائکو دی هم جهنم ته وغورزوی.

یوه بی لمانځه ښځه به دخدای پاك حضور ته وړاندی کړای شی پوښتنه به تری وشی لمونځ دی ولی نه ادا کولو دغه ښځه به عرض وکړی ای خدایه خاوند راباندی ډیر ظالم ؤ دهغه دډیرو کارونو اودهغه دویری می لمونځ نشو ادا،کولی حکم به وشی راوغواړی دفرعون ښځه اسیه بی بی نوحاضره به کړای شی اسیه بی بی ، بی نمانځه ښځی ته به الله تعالیٰ وفرمایی ستا خاوند ډیر ظالم ؤ اوکه داسیه بی بی خاوند (فرعون).

بیابه الله تعالیٰ وفرمایی اسیه دڅومره ظالم او جابرانسان ښځه وه خوبیایی هم خپل عبادت ته نه وه شا کړی دکوم ظالم خاوند ظلمونو که یوه ښځه دلمانځه څخه بندولی شوای نو اسیه بی بی به هم بند شوی وه نوای بی نمانځه ښځی دخاوند دظلم عذر غلط دی بلکه ته پخپله دلمانځه څخه غافله وی نو حکم به وشی ملائکو ته داهم جهنم ته وغورځوی اوویه غورځول شی جهنم ته .(تفسیر روح البیان)

زه ولی مسلمان شوم؟...

طلاق واقع وی اوبیا بیرته سره جلاوی ، همدارنګه اسلام څومره سپیڅلی او له حکمت نه ډك دین دی ، څومره ښکلی اصول لری ، نارینه به دبهر کارونه کوی اومیرمن به دکور او اولاد پالنه .

دنجیب مزدور رژیم دباقی پاتی کیدو علت دجهادی تنظیمونو بی اتفاقی ده

قاضی غلام محمد مخلص

که څوك په دنیا کی په ښه غوراو فکر سره دبشر تاریخ مطالعه کړی اوبالخاصه دپاك قران هغه قصص او امثال چی دعبرت اخیستلو له کبله الله تعالی موږ ته بیان کړیدی وگوری نو خامخا به ورته جوته شی چی په نړی کی ډیرو قومونو دخپلو ذاتی اوشخصی گټو په خاطر اجتماعی گټی دتل لپاره دپښو لاندی کړی اودغه ظالمو قومونو دخپل ذاتی اقتدار دخوندی ساتلو په منظور دالهی فرامینواو حدودو څخه غاړه غړولی دی خو دغه جبارو قومونو نه یوازی داچی په انسانی تاریخ کی کوم عزت او وقار ندی لیدلی بلکه دالهی قهر او غضب په اثر دځمکی له مخ څخه محوه شوی دی ، اودهلاکت کندی ته لویدلی دی چی دنړی تاریخ دلوی په دغه بدو او ناوړه عواقبو شاهد دی.

قرانکریم موږ ته دډیرو امتونو حالات بیان کړی دی چی دحق او باطل تر منځ څومره جگړی ، ظلمونه قتلونه اوبی رحمی راغلی دی چی په نتیجه کی دباطل پلویان دخپلی سرکشی او غرور له امله ددنیا دهستی له صفحی څخه لری شوی دی او ددوی له دغه بدو عواقبو یادونه پاك قران زموږ لپاره کړیده چی موږ له هغی څخه عبرت واخلو نو ځکه وایو چی ټول مسلمانان چی یو واحد ملت دی سره یوموټی شی متحد او متفق شی اوداسلام داول صدرغزوات او جهادونه راپه زړه کړی اودهغی په رڼا کی دنړی ټول مسلمانان دکفر او باطل په مقابل کی لکه بنیان مرصوص ودریږی ، ترڅو په نړی کی باطل له منځه لاړ شی او حق غالب شی اوکلمة الله په دنیا کی حاکمه وگرځی اودنړی ټول انسانان دیو اسلامی حکومت تر سیوری لاندی آرام او هوسا ژوند تیرکړی ، بالخاصه په موجوده وخت کی چی دافغانستان دجهادی قیادتونو مشران او مجاهدینو، قوماندانانو چی دیارلس کلن جهاد یی گټلی دی داسلامی اخوت په فضا کی لاسونه سره یو کړی او دغه اسلامی جهاد چی نن په افغانستان کی دکامیابی اوبریالیتوب په درشل کی ولاړ دی دالله تعالی په فضل او کرم سره سر ته ورسی اودجهادی قیادتونو مشران په صمیمانه او داخلاص څخه ډکه فضا کی دیو واقعی او حقیقی واحد قیادت لاندی رهبری شی اوخپلو جهادی قوماندانانو ته هم دیو واحد قاید دقوماندی لاندی فرامین صادر کړی ، اوهغه واحد قیادت اوقوماندہ په گران اسلامی افغانستان کی عملاً پیاده شی .

دافغانستان مظلوم او شهید پالونکی ولس چی په دی دیارلس کلن جهاد کی له یو نیم میلیون څخه زیاتو شهیدانو په نذرانه کولو سره دروس ملحد او ناولی سری لښکری چی دسوپر طاقت په نوم یادیدلی دخپل حریم افغانستان څخه په ډیری بیشرمی سره اوله خجالته ښکته سر وویستلی چی نن پخپله روس له داخلی اواندرونی ولږی ، تندی ، عدم استحکام سره مخامخ دی چی دسوپر طاقت نښه یې هم دمغزو څخه وتلی ده چی دډیری وارخطایی له کبله غربی هیوادونو ته دتسلیم کیدو په حال کی دی خو متاسفانه زموږ ددغه جهادی قیادتونو دمشرانو دنفاق ، شقاق ، بی اعتمادی ، تربگنی او بدبختی له کبله دروس گوډاگی اومزدور نجیب لاتر اوسه په کابل کی ناری سوری وهی او دغلامانه اقتدار په چوکی پاتی دی چی دغه حال دافغانستان دمهاجرینو او مجاهدینو لپاره یو لوی پیغور جوړ شوی دی ، چی ټول نړی وال وایی چی دنجیب رژیم دافغانستان دجهادی قائدینو نفاق او اختلاف راټینگ کړی دی او که نه نو چی روس دافغانستان څخه شرمیدلی لاړ نو نجیب به څنگه دغه زمریو مجاهدینو ته ودریږی ، ځکه چی بادار ځی نومزدور دهغی نه مخکی ځغلی .

مشکله خبره خو داده چی دافغانستان مسلمان او مجاهد ولس بی ساری سرښندنی خودروس یرغلگر دتیښتی ته مجبور کړ خو دجهادی تنظیمونو مشران به یو ځای ناستی اویو بل ته دورورۍ لاس ورکولو اتفاق او اتحاد ته څوك مجبور کړی ، افغانی مجاهدینو په واقعیت او حقیقت سره دالهی فرمان سره سم دحق او باطل تر منځ جگړه وکړه چی دغه جهاد دنبی کریم صلی الله علیه وسلم او کرامو اصحابو رضی الله عنهم دجهاد په شان واقعی جهاد دی چی داسلامی تاریخ پدی تیر شوی پنځلس قرنونو کی ساری او مثال نه لری او داځکه چی افغانان دروسانو دوحشیانه حملو ، ظالمانه قتلونو ، بمباریو ، توپونو او سکډ میزائیلو څخه هیڅ ویره او خوف ونکړ اودکفر او الحاد په مقابل کی خپلی سینی ډال اوسپر کړی روسان چی دسوپر طاقت په نوم یادیدل په افغانستان کی یی دافغان مجاهدینو دلاسه داسی سخته ماتی وخوړه چی په دنیا کی دتل لپاره شرمنده او خجل پاتی شول چی تاریخ به یی تل یاده وی حتی چی دافغانستان جهاد دټولی نړی دمظلومو ملتونو دفتحی او بریالیتوب جهاد دی ، اودغه اسلامی جهادداسلام واقعی عظمت او جلالت یی نړی والو ته څرگندکړ نو ځکه ددنیا ټولو مسلمانانو که عرب ؤ او که عجم که تور پوستان ؤ او که سپین پوستان افغانی جهاد یی یو اسلامی شرعی ، دینی او حقیقی جهاد وباله اوپدی فی سبیل الله جهاد کی یی دخپل توان او طاقت په اندازه برخه واخیسته او دهیڅ قسم مرستی څخه یی ډډه ونکړه اوداسلامی دین غیبی قدرت یی نړی والو ته په اثبات سره ورساوه چی ټول مسلمانان یو واحد امت او ملت دی او ټول کفر چی هم یو واحد ملت دی ، دشهیدانو پدی ټاټوبی افغانستان کی دپاکستان مجاهدینو خپلی وینی تویی کړی ، سعودی ، فلسطین کویټ ، ایران ، مصر ، الجزایر ، سودان ، اردن اوداسی نورو اسلامی هیوادونو مسلمانانو په مالی او ځانی قربانیو سره دافغانی مجاهدینو تر شا ودریدل اوقربانی یی ورکړی او ځنی خلك په ژبی او قلم سره دافغانی مجاهدینو کارنامی ثبتوی اوویاړی او دتل لپاره دافغان او روس دجهاد تاریخونه لیکی او ددغه غازیانو په خدمت کی لگیا دی کله چی روسی پوځونه وتښیتدل جهادی قیادتونو په نړی واله سطحه دااعلان وکړ چی دافغانستان ځمکه په سلو کی ۹۵ فیصده دافغانی مجاهدینو په لاس کی ده ، دمجاهدینو عبوری حکومت به ډیر ژر دافغانستان په داخل کی پخپل کار پیل وکړی مجاهدین دکابل دمزدور رژیم دنسکورولو او سقوط لپاره دعمل گډ پلان جوړوی

نوربیا

غرب ته تښتیدلي افغانان چي په افغان جهاد کي هیڅ برخه نه لري اوپخپله دجهاد مجرمان دي اوداسي نورو لادینه عناصرو ته دمجاهد افغانانو دسرنوشت اختیار ورکول اوورسپارل دافغانستان دمسلمان اومجاهد ملت په تعقل اوجهاد پوري توقي اومسخري دي

قرانکریم موږته دډیرو امتونو حالات بیان کړیدي چي دحق اوباطل تر منځ څومره جگړي ظلمونه ، قتلونه اوبي رحمي راغلي دي چي په نتیجه کي دباطل پلویان دخپلي سرکشي اوغرور له امله ددنیا دهستي له صحني څخه لري شوي دي

دنور په لور
زه ولی مسلمان شوم؟

میرمن مریم ولید «رومانیایی»

دفیملی اردومجلی په «۳-۹دسمبر۱۹۹۱م»گڼه کی دیوی نوی مسلمانی شوی میرمن «مریم ولید» اودهغی دفلسطینی خاوند «ولید» په باب مطالب خپاره کړیدی ، چی موږ یی دجهاد هنداری لوستونکوته راژباړو . دمریمی اوولید پیژندگلوی درومانیی دبخارست په پوهنتون کی شویده اوبیا دواړه دژوند په سفر کی یو دبل دایمی اندیوالان شویدی ، راځی دمریمی دژوندانه یوی گوښی ته ځیر شو، دهغی مریمی چی دمادی تمدن په غیږ « اروپا »کی یی سترگی وغړولی خو روحی تسکین یی نه درلود اوورپسی سرگردانه وه بالاخره یی روحی داډ اوتسکین وموند چیرته اوځه وړ ؟ نوغوږ شی:

زه درومانیا دبخارست په ښار کی زیږیدلی یم ، پلارمی وفات شویدی ، مورمی اوس هم هلته اوسیږی ، اوزه دبخارست له پوهنتون څخه فارغه شوی یم ، زه کوم بل ورور اویاخور نه لرم اودخپل مور اوپلار یوازینی لور یم ، هلته په اروپاکی خلك له یوه اویا دوو اولادونو څخه زیات نه غواړی ځکه میندی هغوی نشی پاللی ، خوماتعجب وکړ چی په فلسطین کی ښځی لس دوولس اولادونه هم لری !

مااوولید دبخارست په پوهنتون کی دوه کاله وړاندی یوله بله سره وپیژاندل ،دغه پیژندگلوی مو بالاخره په دی تمامه شوه چی شپږ میاشتی وړاندی داپریل په میاشت کی مو واده وکړ ، شپږ میاشتی وړاندی چی کله ماله ولید سره واده کاوه هغه وخت زه دعیسایی دین منونکی وم ، ولید ماته ویلی وو چی یومسلمان له اهل کتاب ښځی سره نکاح کولی شی ، اودواده لپاره ضرورنه ده چی مذهب تبدیل کړی ، اوولید په زور او جبر سره ماته دمذهب دبدلولو په باب هیڅ نه ویل ، زماهم داپه خیال کی نه راگرځیدل چی زه به کله خپل دین پریږدم .

زما اوولید ترمنځ پردی تعهد وشو چی زه به خپل مذهبه یمه اوولید به په خپل ، خودری میاشتی وړاندی موږ دمختلفو هیوادونو دسیاحت لپاره ایران ته ورسیدو، هغه دجمعی ورځ وه اوزیات کارو باری مرکز ونه تړلی وو ، هوټل هم بند وو موږ ډیر وږی شوو اودشپی دتیرولو لپاره مو دیوه مکان ضرورت و اوکله مو چی داسی مناسب ځای ونه موند نوولید له یو ځوان څخه پوښتنه وکړه چی جومات چیرته دی چی موږشپه هلته تیره کړو ، هغه ځوان ډاکتر و ولیدته یی وویل چی تاسو هم مسلمانان یاست اوزه هم ، مسلمانان سره ورونه وی نوتاسو هم دغه داسلامی ورورگلوی په مزی له ماسره شریك یاست ، نوراځی لماسره کورته ولاړشی تاسو زمامیلمانه یاست ترڅو زما کورته برکت راشی بیا هغه ځوان زموږ دومره خدمت وکړ چی څوك سکه ورور به هم دچا دومره خدمت ونکړای شی ، په همدغه شپه زماپه فکر کی بدلون پیل شو په ذهن کی می داراگرځیدل چی داڅومره له مینی ډك انسانی مذهب دی چی هرمسلمان دبل ورور دی ، بیامی په اروپا کی دخلکو چارچلندراپه یاد شو ، که موږ په کوم اروپایی هیواد کی دشپی تیرولو ځای نه موندلای نو له لوږی که مړه کیدای هم چابه مرسته نه راسره کوله ، په ایران کی می چی بل څه ولیدل هغه دتور سرو عزت اواحترام ؤ ، اسلام چی دښځی څومره عزت او احترام کړی په بل کوم دین اومذهب کی یی مثال نشته . نوځکه ورو ورو داسلام حقانیت زما پر ذهن غلبه وکړه اوبالاخره می کلمه وویله اومسلمانه شوم ، سمدستی می اسلامی حجاب مراعات کړ ، اوس زه خپل ویښتان پټوم او پرده کوم زه له خپل خاوند «ولید » پرته بشپړه پرده کوم اودبل په مخ کی ویښتان نه ښکاروم .

زما داروپا دارواج ډیر بد ایسی چی هلته دکورنی شیرازه ویجاړه ده ، په لږ،وړه شانته خبره دخاوند اومیرمنی ترمنځ

په ٤ مخ کي .

اوبیا دخلکو دخولی دپاکستان مهاجر وریه زړه شول .

کیدای شی ، دوی به هم کومی خواته تللی وی ، نور یی په کور کی ددریدو توان په ځان کی ونه لیده ، په پنډوکی یی ورمنډه کړه چی راوای خلی خو په پنډوکی کی یی ددیگی بخار سره گوتی ولگیدی ، هغه دمور دری کاله وړاندینی خبرو یی په مغزو کی چورلکونه وخوړل ، چی په ده باندی یی دیوه ایرانی دیگی بخار دراوړو تاکید دیوی ډالی په دود کړی ؤ ځکه دغریب سړی کور اودیگی بخار !! دغبرگو سترگو گاتی یی داوښکو په ډنډونو کی غوپه شول ، هیڅ نه پوهیدو چی څه وکړی ، اوچانه دخپل کور پوښتنه وکړی دکوټو نه یی ویره وشوه وازی خولی یی دده پلونیولی وی پنډوکی یی په شا راواړاوه ، اودکلی نه وتلی نیغه لاره یی ونیوله ، نه په ځان پوهیږی اونه په مزل دنامعلوم منزل په لوروان دی

چی شغ شو دپټو دمنځنه یوه ډله خلك په وسلو سمبال

زما والي ...

راووتل ، یوه بل ته سره مخامخ شول همغه خپل دکوچنیتوب او زلمیتوب ملگری یی دی چی اوس یی غتی غتی ږیری اوببر سرونه پریښی مجاهدین دی دسترگو څخه یی دپت غیرت او میړانی بڅرکی الوځی ، یوه بل سره یی وپیژندل مجاهدین خو دده دکور دحاله خبرؤوله ځانه سره یی خپل مرکز ته بوت خبر شو چی نن شلمه ورځ ده چی په کلی بمبارد شوی هرڅه دروسانو دبمونو په لمبو سوځیدلی دی دی هم دکوره خلاص شوی ؤ هیڅ یی نه ؤ پاتی که څه ورته پاتی ؤ نو لوی او قوی سنگرورته ددښمن په مقابل کی پاتی ؤ ددی نه لابل سه ځای چیرته ؤ دهمدغه ځای څخه یی په وطن راخوری شوی توری تیاری دټوپك په رڼا ورکولی شوی مجاهدشو داسلام سپاهی ټول غمونه یی شاته کړل دجهادی سفرونو اوشبگیرولپاره یی موزی په پښو اوټوپك غاړی ته کړ کله په یو ځای کی عملیات اوکله په بل ځای کی څه وخت پس یو ځل بیاد قوی دراتگ اوازه شوه اوازه پسی پخه شوه او رښتیا شوه دټانکونو توره اوږده لیکه په سرو دریدله مجاهدینو ته بوڅه دیگی بخارونه پکار ؤ ، دروسانو ټانکونو ته دډالیو په دود .

ددیگی بخارونو په لټه کی ؤ چی قادر خان ته خپل ایرانی دیگی بخار وریه یاد شو ، ورمنډه یی کړه او پنډوکی یی راواخیست تك سپین دیگی بخاریی تری راویوست ، دادی ، واخلی دروسانو لپاره زما ډالی لومړی به دباروتو نه ډکیږی ، ځکه چی بیخی نوی دی ، لومړی دیگی بخار دقادرخان ؤ چی دسر ټانك یی داور لمبه کړ اوشنی لوخړی یی تری پورته کړی او وریسی دپرله پسی ډزواوچاودنوله لاسه دخواوشا ځمکه په لړزاشوه. قادرخان دټانگ دلمبه کیدو سره دالله اکبر ملکوتی نعره پورته کړه اوبیا وریسی یی په زوره چغه کړه .

ماواخیست په نره می واخیست دخپل وطن دقاتلانو څخه می دخپلو میندو خویندو او ورونو دوینو تویولو کسات پخپل دیگی بخار واخیست ...

زه بریالی وم زه بریالی شوم ځکه چی ما خپل کسات له شورویانو څخه واخیست ...

دافغانانو جهاد دروسیی امپراتوری ...

نقشه یووار بیا راڅرگند شی.

بلی خواته دروسی فدراسیون اویوکرائن په څیر دقوی او لویو جمهوریتونو واکمنانانو هم دخپلو ملتونو غوښتنی ته دتسلیم سر ښکته کړ اودگورباچوف دباداری څخه یی ځان راټول کړ . اودیوی مشترك المنافع اداری په جوړولو سره رضا شول .

اوس دامعلومه نه ده چی گورباچوف به دچا نمایندگی کوی ؟ځکه نه ورته کومه خاوره پاتی ده اونه کوم مسؤولیت !

لنډه داچی همدغه پاڅونونه او بغاوتونه دروسیی امپراتوری دتش په نامه او په زور تحمیل شوی اتحادیی دماتیدو پیغام وگرځید او نن یی هغه ټول زور او قوت چی پری نازیدو تیت اوپرك شو . نن په نړی کی د شوروی اتحاد پخوانی نوم شته خوهغه شوروی اتحاد نه شته چی تل به یی دمظلومو پرگنو دوینو په څښلو ژوند کاوه .

په روسیه کی داتحادیی دنه ویجاړولو اودمشترك المنافع اداری دمخنیوی په اړوند دگورباچوف ټولی هلی ځلی له یوی مخی دناکامی سره مخامخ دی اونږدی ده چی ډیر زر به داتحادیی په نه ساتلو دخپلی ناکامی اعتراف وکړی اوله دندی څخه به گوښه شی ، ځکه دشوروی اتحاد هر جمهوریت جلا جلا دخپلواکی چغی وهی او دهر جمهوریت خلکو دخپلواك اوسیدو لپاره رایی ورکړی . اوس دپخوانی شوروی اتحاد یو جمهوریت هم ددغه بدمرغه اتحادیی دظلم اوجبر لاندی دغلامی او اسارت ژوند تیرولوته تیار نه دی .

هو : په نړی کی دروسیی امپراتوری دټوټه ټوټه کیدو سبب دافغانانو بی ساری مقاومت ؤ چی دنړی مظلومو او بی وسه ملتونو ته یی له خونړی سره استکبار څخه نجات ورکړ اودایی په ډاگه کړه چی دخدای (ج)په مینه مست مسلمانان هیڅکله هم دکفر او الحاد تر تسلط لاندی شپی ورځی نشی تیرولی ولو که هر څومره تش لاسی او بی وزله وی .

او داځکه چی سرووحشی روسانو هم افغانان یو ډول بی وسه اوبی وزله گڼل خو ښایی دافغانانو له ویاړ اوبرم څخه ډك تاریخ به یی په دقیق ډول نه ؤ مطالعه کړی چی همدغه لرغونی افغانستان دهر ظالم یرغلگر لپاره دمرگ کنده او دعبرت درس گرځیدلی او ددغو په اسلام مینو او میړنیو افغانانو سره چی دوخت هر یرغلگر سر جنگولی نو بیابی روغه ورځ نه ده لیدلی له ټولو مستعمرو څخه یی پنجه پورته شوی اوبیرته خپلی اصلی ځالی ته گرځیدلی دی ځکه خو داځل هم افغانانو دخپلو بی شمیره قربانیو په نتیجه کی ټوله اسلامی نړی له یوی داسی خونړی بلا څخه خلاصه کړه چی مثال یی دسرطان دناوړه ناروغی ؤ دغو سرو استکبار چیانو همیشه دخپلی خوا اوشاڅخه داسلام دمبارك دین جرړی ویستلی وی تل یی خپله ناولی نظریه او مفکوره په نورو په ظلم اوجبر تحمیل کړی وه خو یواځی اویواځی په افغانستان کی یی خولی له خاورو څخه ډکی شوی هغه ټول پلانونه یی شنډ اوخنثی شول کوم یی چی دافغانانو دښکیلاك او زبیښناك لپاره پلی کړی ؤ دروسی امپراطوری لپاره همدغه یو موټی خو دمیړانی اوشجاعت غرونه داسی افت وگرځیدل چی دکمونستی ناولی کمبله یی له ډیرو پرگنو څخه دتل لپاره پورته کړه روسانو تل نور تجزیه کړی اوترخپل تسلط لاندی راوستی ؤ خواوس پخپله له یوی داسی تجزیی سره مخامخ دی چی نه یی سر راټینگولی شی اونه پښی !

اوانشاالله تعالیٰ هغه ورځ هم لری نه ده چی نور کفری ځواکونه به هم دروسی په څیر پخپل کور کی په بلاواوړی اودشراوافت څخه به یی ټوله اسلامی نړی نجات ومومی چاڅه ښه ویلی دی (مکوه په چا چی وبه شی په تا) روسانو که په نورو نه وای کړی ولی به پری نن کیدل؟ خو دروسانو لپاره چی کومه سزا په کار ده هغی ته لاڅه وخت شته هغه وخت اوهغه حالات به هلته مساعد شی څه وخت چی په افغانستان کی یو سوچه اسلامی دولت منځ ته راشی او انشاالله تعالیٰ دغه ورځ لری ځکه نه ده چی په افغانستان کی دمزدور رژیم ځنکندن په وروستیو سلگو دی نن دی او که سبا واك به دهیواد اصلی وارثانو اوداسلام پخو وفادارانو ته ورسیږی .

انشاالله

قدرت اتمی روسیه خاتمه ...

که باعث تشویش مند وبین وشرکت کنندگان غربی گردید بعضی ازماهرین اوضاع سیاسی اظهار شك وشبهه نموده اند که آیا واقعاً اوکراین میتواند که سرمایه نیروی مسلح اش رامهیا نماید ، ویلنتائن لزاریف یکتن از تورن های قوای بحری در کنفرانس سوال کرد که اساس وطن دوستی دراین حالت سریع المنتشر وتباه کننده در روسیه چی خواهد شد وآیا جمهوریت های مختلف قدرت های جداگانه علمبرداروطن دوستی نخواهند شد؟ لزاریف که در اکاد. می برای بهبود بشریت در روسیه سمت استادی را دارد معتقد است که درعهد اقتدار روایتی روسیه حسن وطن دوستی موجود بوداکنون این احساس ازبین رفته است وروی کدام چیز میتوان اتحادیه روسیه را متحد ساخت؟ عملاً قیادت ارتش راغربت بربادی، خانمانسوزی پریشان نموده است هزار ها ولك ها تن از اعضای خانواده های نظامی اروپایی شرقی درحال بازگشت اند وبرای آنها سرپناهی وجودندارد وایشان درفقر وغربت زندگی بسر میبرند' دوران خدمت عسکری را ازدوسال به ۱۸ ماه تقلیل دادند ، درارتش روسیه اکنون شاید تقلیل دیگری هم صورت بگیرد وقرار است که درآینده نزدیك شش صد هزار تن از افراد نظامی از عهده های خود سبکدوش گردند.

دراین اوضاع رقت بار روسیه این عساکر سبکدوش شده حیران اند که به کجا بروند ؟ زیرا هیچ پرسانی ازایشان نیست بعد ازخروج ازوظیفه عسکری آنها چه خواهند کرد ؟ آنها نمیتوانند یك مدت طولانی رادر غربت وافلاس سپری نمایند بناً دست به جنایات متشدد امیز خواهند زد در روسیه جرائم متنوع از قبیل دزدی ، رهزنی ، سرقت وغیره روز بروز اوج میگیرد وبخاطر وضع ناهنجار اقتصادی هزار ها زن دست به قدیم ترین پیشه دنیا (جسم فروشی) زده اند.

روسیه شوروی تاماه اگست گذشته مشتمل از ۱۵ جمهوریت بود سه کشورهای بالتیك (لتویا ، لیتوانیا ، استونیا) با اخذ آزادی شان از روسیه در کوشش آن بودند تا با جمهوریت های دیگر گورباچوف اتحادیه سیاسی واقتصادی راتاسیس نمایند.

کشورهای آسیای میانه فیصله نمودند که در رابطه با فیصله های که کرده بودند تادر اتحادیه کشورهای ذی منفعت شامل شوند تجدید نظر خواهند کرد زیرا آنها معتقد اند که بدون اوکراین و روسیه مرکزی اتحادیه جدید فایده نخواهد داشت زیرا آنهادوکشورثروت مند روسیه اند والبته این دو کشور قبلاً از اشتراك دراین اتحادیه آبا ورزیده بودند.

اماخیراً پنج جمهوریت روسیه اظهار نموده اند که دردولت مشترکه شامل می شوند امید میرود که باقی جمهوریت ها هم دراین دولت مشترك شامل خواهند شد درحالیکه جمهوریت های مسلمان نشین این اقدام رایك اقتدام عاجل دراین رابطه تلقی نمودند.

گورباچوف قرار است قبل از اینکه حکومت مرکزی ازبین برود استعفا بدهد ودولت مشترکه میخواهد مرکزش را روسیه ابی تاسیس نماید ، تاپالیسی امور خارجه وقوای نظامی را دردست خود قرار بدهد ، آیا پارلمان روسیه کدام اختیاری رادردست خواهد داشت ؟ بدیهی است که بعد از تشکیل دولت مشترك حکومت مرکزی که در راس آن گورباچوف است ازبین خواهد رفت وخود آقای گورباچوف اخیراً دریك مصاحبه گفته است که او کدام رول درحکومت مشترکه آینده نخواهد داشت این دولت که از طرف بورس یلتسین اعلام شده است تا هنوز مشکل بنظر میخورد که قادر باشد تا اتحاد رادرمیان تمام جمهوریت ها وخصوصاً ۱۲ جمهوریت باقی مانده روسیه ببار اورد .

دقیادتي شورا او سل کسیزي شورا طرحي دريځونه اونظرونه ...

دمخکی په شان قیادتی شوراگانی جوړوو.»
همدارنگه په ایران کی میشته دشیعه مجاهدینو ډلی دوحدت گوند ویاند چی په دغه غونډه کی ددوی کوم استازی برخه نه درلوده له بی، بی سی راډیو سره په مرکه کی خپل مخالفت څرگند کړی دی اویادونه یی کړی چی موږ داشورا بی اعتباره بولو، دغه ډول شورا باید لومړی له ټول ملت نه داعتماد رایه واخلی نه داچی څو تنه کښینی اوپخپل منځ کی دغسی یوه طرحه وړاندی کړی ددی پر ځای چی قیادتی شورا جوړه شی، بیابله شوری او هغه نوی عبوری حکومت وټاکی باید همدغه موجوده عبوری حکومت تقویه اوله دی لاری دغه خلا ډکه شی.
له بلی خوا حضرت صاحب صبغت الله مجددی چی په دغه غونډه اوخبرو اترو کی موجود ؤ اودطرحی په پای کی یی لاس لیك هم کړی له بی، بی، سی سره په مرکه کی له دغی طرحی خصوصًا دقیادتی شوراله موضوع سره خپل مخالفت اونارضایت ښودلی اوویلی یی دی، چی ماپه دی خاطر داطرحه امضا کړه چی له ورونو سره دافکر پیدانشی چی گوندی زه دخپل قیادت اومشری دساتلو په خاطر له دی طرحی سره مخالف یم، خوکه موږ پخپله ددغه قیادتی شورا اصولو ته نظر وکړو کومه عملی جنبه نلری، موږ له پخوا نه داتجربه لرو ځکه له دی مخکی هم موږ قیادتی شورا گانی جوړی کړی، خوکوم کار تری نه دی جوړ شوی، ددی پر ځای چی ستونزی او معضلی موحل وفصل کړی خنډونه یی راپیدا کړی اوله مشکلاتو سره یی مخامخ کړی یو.»
له دغی طرحی اوشوری سره داستاد سیاف دمخالفت خبری اتری هم کیدلی، خواوس دیو جهادی مشر دڅرگندونو له مخی هغه هم ددی طرحی په منلو راضی شوی دی. دملی اسلامی محاذمشرهم دقیادتی شورا سره مخالفت څرگند کړیدی.
له دی پرته په پیښور او کویټه کی ددی طرحی پرخلاف دعلماو قوماندانانو او مهاجرینو دغونډو خبرونه هم خپاره شوی دی.
خو اوس دقیادتی شورا دجوړیدو تر څنگ دیوی بلی شورا دجوړیدو په هکله چی دسلو تنو په شاوخوا کی غړی به ولری، تودی خبری اتری روانی دی، اودخپرو شویو خبروتو له مخی څرگندیږی، چی جهادی ځواکونه اوس دیوی داسی شورا دجوړیدلو لپاره چمتوالی نیسی چی هغه دراتلونکی لپاره بونوی مؤقت اسلامی حکومت، چی په نوموړی طرحی کی یی یادونه شوی ده رامنځ ته کړی.
ویل کیږی چی په دغه شورا کی په پیښور کی له میشتو اوو جهادی تنظیمونو څخه شپږ، شپږ تنه، دمولوی نصرالله منصور، قاضی محمد امین وقاد، اودجماعة دعوة الی القران والسنه له ډلو څخه دوه، دوه تنه له قوماندانانو،علماوو،شورای ائتلاف اوحزب وحدت څخه شپږ، شپږ تنه،په اروپا کی له میشتو افغانانو څخه دری تنه استازی اودقیادتی شورا شامل دولس تنه غړی برخه ولری، چی په دی حساب ټول ۸۷ تنه کیږی ۱۳ څوکی خالی پریښودل شوی خو تراوسه دانه ده معلومه چی داڅوکی په څه غرض او دچا لپاره دی.
ویل کیږی چی له بهر نه دراغوښتونکو دری تنو استازیو په هکله هم دجهادی ځواکونو اوقیادتونو تر منځ دنظراختلاف موجود دی، هر څوك دبیلابیلو ملحوظاتو له مخی دخپلی خوښی اشخاص پیشنهاد وی.
همدارنگه دوحدت حزب استازیو تراوسه پوری ددی شورا په اړه خپل غوڅ دریځ نه دی څرگند کړی اوویلی یی دی چی ترڅو په ایران کی له خپلو مشرانو سره مشوره ونکړی خپل دریځ نشی اعلانولی.
داچی داروانی شورا گانی به کومی مطلوبی نتیجی ته ورسیږی، او که نه؟ اوددغو وړاندی شویو طرحو په وړاندی به دنظرونو اودریځونو جلاوالی په دی حساسو شیبو زموږ داسلامی انقلاب پر مسیر څه وړ اغیزی ولری؟ آیا دغه دقیادتی شوراگانواو مشورتی یادایمی شورا گانو جوړیدل زموږ ستونزه حل کولای اوزموږ دوروستی بری په وړاندی واقع خنډونه لری کولای شی که نه؟ زموږ مجاهد ملت دمؤمنو خلکو غوښتنو او پوښتنو ته دقناعت وړځواب ویلای شی که نه اوآیا....؟
داټولی هغه پوښتنی دی چی ځواب به یی دروانو حالاتوپه بهیر او دپیښو په نتایجو او عواقبو کی رابرسیره شی.
په دی حساسو شیبو کی چی له یوی خوا زموږ اسلامی انقلاب دوروستی بری په درشل کی په سرنوشت ټاکوونکی پړاو کی واقع دی اوله بلی خوا ټول کفری اوطاغوتی ځواکونه اودهغوی پلویان په خپل ټول ځواك زموږ دانقلاب دناکامولو اوله خپل مسیر نه دبی لاری کولو لپاره له بیلابیلو لارو په ډول ډول رنگونو او نیرنگونودتوطیو او دسیسونه په کار اخیستلو سره شومی هڅی کوی، نوکه موږ اوس هم خپل وخت په هغه اودغه ډول طرحو اودناکامو تجربو په تکرار تیروو، نن داسی شوراگانی او حکومت جوړوو چی نیمگړتیااو کمزورتیا یی له ورایه بریښی، اوسبایی پخپله دړنگولو هڅه کوو، نو داکار به موخامخا دخپل سترانقلاب اوارمان سره چی دهغی لپاره مو دادومره ځانی او مالی قربانی ورکړی، دنه بخښونکی خطا او جفا په توگه تلقی شی، ښه به داوی چی خپل ستر هدف ته درسیدو په هیله له خپلو بیلو بیلو غرضونو او جلا جلا نظرونونه تیر شو اودیو واحد دریځ اوصف په رامنځته کولو سره دسرمنزل په لور پاخه اودرانه گامونه واخلو.
وماعلینا الاالبلاغ

زموږ سیاست داسلام سیاست دی ....

دی.
بله خبره داده چی دملل متحد فیصله ظالمانه ده او مادی یی غلطی دی په دی تاسی دوکه نه شی او دی مادوته غاړه کښینږدی هر څوك چی څه وایی،وایی به خو موږ به یی داسلام په تله تلو دین کی به یی گورو دعلماوو مخه ته به یی ږدو داددنیا سیاست نه دی داداسلام سیاست دی، ملل متحد چی کوم حکومت جوړوی اویبا افغانستان ته نقلول غواړی دابه دببرك کارمل غوندی مثال ولری لکه روسانو چی دتاشکند نه راوست په افغانستان کی دمسلمانانو په خوښه اسلامی حکومت جوړیږی.
دحقانی صاحب تر عالمانه وینا وروسته انصار ورور قاری صاحب عبدالله وینا وکړه اودخبرو په ترڅ کی یی وویل:
په افغانستان کی دروسی کودتا په مقابل کی دټولی دنیا علماوو دجهاد فتوی ورکړه اما اوس کومه تازه وحی راغلی ده،چی هغه نظریه،هغه فکر، هغه سوچ دتره کی پروگرام دحفیظ الله امین پروگرام دگ.یاچوف پروگرام څنگه بدل شو، چی اوس خلك وایی چی جهاد روانه دی؟ هغه نظریه نن هم پاتی ده اودانظریه دروس په شکل کی،داسی مسلمان ته به ته څه وایی چی دکافرو سره کافروی اودمسلمان سره مسلمان وی دمنافقو سره منافق وی، زموږ جمیعت العلمای اسلام ټول ملك کی داخبره خلکو ته کوی چی دافغانستان مجاهدینو هغه وخت پوری حمایت فرض عین دی ترڅو پوری چی په افغانستان کی دمحمد رسول الله (ص) جنډه نه وی لگیدلی.....»
دقاری صاحب عبدالله څخه وروسته یوه بل انصار عالم اودحرکتالمجاهدین امیر مولانا فضل الرحمن خلیل دجهاد، هجرت اوشهادت په باره کی خپله وینا واوروله او وروسته دمنبع العلوم مدرسی استاد شیخ الحدیث مولاناشیرعلی شاه صاحب ته دوینا نوبت ورسید، مولوی صاحب خپلی خبری دقرآنکریم دڅومبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل کړی او وی ویل: جناب صدر جلسه،علمایی کرامو دقران پاك حافظانو دعلوم دینی طالبانو او په اسلام باندی مینو ورونو!
مونږه لومړی دټولو میلمنو شکریه اداکوو چاچی دمنبع العلوم په دعوت باندی دشهداوو پدی کانفرس کی په ډیر اخلاص سره شمولیت کړی دی.
مولوی صاحب زیاته کړه: دافغانستان جهاد صرف داعلاء کلمة الله دپاره کیږی ددی دپاره کیږی چی داباطل ایزمونه،الحاد دځمکی دمخ نه ورك شی دافغانستان جهاد دعلماوو په متفقه فتوی باندی اسلامی جهاد دی داد کمونیزم، لیننیزم اوستالینزم خلاف جهاد دی لکه چی تاسوته مولانا فضل الرحمن خلیل وویل چی دجهاد برکات مو وکتل په لږه موده کی دننه دننه دلینن بوتان چی هغه دروس په هر چوك کی نصب شوی وودجهاد په برکت هماغو لاسونوراغورځول دمسلمانانو حکومتونه ازاد شول....»
دشیرعلی شاه مولوی صاحب وروسته مولانا صاحب گل منیر دخپلو خبرو په یوه برخه کی وویل: په افغانستان کی جهاد دټولو علماوو په گډه فتوی پیل شوی دی او تر هغه وخته به مسلمانانو فرض دی ترڅو چی دجهاد مقصود لاسته راشی اودا مقصود به هلته لاسته راشی چی دملحدینو او کفارو تسلط په مکمل ډول ختم شی.»
دغه غونډه چی دمنبع العلوم دیوه تن استاذ مولوی وارث خان دشهادت اودگردیز جگړی دنورو شهیدانو په یاد دمنبع العلوم مدرسی داستاد انو له خوا جوړه شوی وه دورځی په دریو بجو ددعایی په لوستلو سره پای ته ورسیده.

دريو پهلوانانو دبرياليتوب دري مداله ترلاسه کړل ...

پیښور، جهاد هنداری خبریال:
دافغانی مجاهدینو دشهید عارف دپهلوانی دکلپ دری تنو غړیو داسیایی هیوادونو دپهلوانی په یوه رسمی تورنامنټ کی چی دقوس له ۱۳ می څخه تر ۱۵ می نیټی پوری په لاهور کی جوړ شوی وو، گډون وکړ اودقهرمانی ددریو مدالونو په ترلاسه کولو سره ډك لاس بیرته راستانه شول.
دجهاد هنداری خبریال لیکی په هغه غونډه کی چی تیره اونی دچهارشنبی په ورځ دشهید عارف دپهلوانی کلپ دسرپرست اوترینر اودکابل ولایت دنامتو جهادی قوماندان محمد انور خان په بلنه دقوماندانانو شورا په سیاسی دفتر کی دځینی جهادی خبر ځایونو داستازو په گډون له همدی امله جوړه شوی وه لومړی قوماندان انور خان داسلام دمقدس دین له نظره دسپورت په اهمیت رڼا واچوله او زموږ دجهادی شرایطو دغوښتنی مطابق یی دهغی اهمیت واضح کړ، اودخپلو خبرو په ترڅ کی یی دشهید عارف کلپ دری بریالی پهلوانان حاضرینو ته معرفی کړل.
دجهاد هنداری خبریال زیاتوی چی په افغانی مجاهدینو پوری مربوط دشهید عارف دپهلوانی کلپ دری غړیو چی په دغه لوبو کی یی بریالیتوب ترلاسه کړی وو په لاندی ډول دی:
۱- نصیر احمد د۵۷ کیلو گرامه وزن په کته گوری کی لومړی مقام حاصل کړی

اودسرو زرو مدال یی گټلی.
۲- محمد کریم د۶۲ کیلو گرامه وزن په درلودلو سره دوهم مقام ترلاسه کړ او دسپینو زرو مدال یی گټلی
۳- رازی گل د۴۸ کیلو گرامه وزن په درلودلو سره دریم مقام ترلاسه کړی اودډیرو بومدال یی اخیستی
نوموړو پهلوانانو وویل په دغه لوبو کی چی په لاهور کی ترسره شوی شپږو سپورتی تیمونو برخه اخیستی وه چی له هغی نه څلور تیمه دپاکستان مربوط یوتیم دایران اویوتیم دبنگله دیش وو.
افغانی مجاهدین لدی امله چی په رسمی اونړیواله سطحه کی کوم پیژندل شوی تیم نلری ځکه نو دغه لوبغاړو دپاکستان دریلوی تیم دلوبغاړو په حیث پدی لوبو کی گډون کړی وو.
نوموړیو لوبغاړو دجهادی تنظیمونو اومشرانو څخه غوښتنه وکړه ترڅو دمهاجرت په ډگر کی دافغانی مجاهدینو لوبغاړو ته دفعالیت زمینه برابره کړی اوپه رسمی اونړیواله سطحه دهغی لپاره یو تیم جوړ کړی هغوی وویل چی که څه هم موږ په دغو لوبو کی ډیرڅه وگټل ولی دافسوس ځای دادی چی په رسمی سطحه زموږ افتخارات یوه پاکستانی تیم ته منسوب کیږي.

دهیواد په تودومورچلو کی

کندهار :

په کویټه کی دمیډیا نمایندگی دکندهار دجهادی منابعو له قوله رپوټ ورکوی چی مجاهدینو دیولړ عملیاتو په ترڅ کی پههوایی ډگر کی درژیم دوسلو دوه ډیپو گان اوڅلور عرادی پوڅی لاری سوځولی اوپه لس هاوو عسکراوملیشه یی له منځه وړی .

همدارنگه دکندهار دمنزل باغ په سیمه کی درژیم پر قواوو دمجاهدینو دبرید په اثر درژیم له قواوو څخه ۱۱ تنه عسکر او ملیشه وژلی اودهغوی یوه عراده ټانك یی سوځولی دی.

هرات :

دهرات څخه دمیډیا دکویټی نمایندگی رپوټ ورکوی چی مجاهدینو دهرات ښار په کمربندی پوستو تعرضی بریدونه وکړل چی په نتیجه کی درژیم یوه پوسته فتحه ، یو میل پی ، کا ماشیندار ، اودوه میله کلاشینکوفونه مجاهدینو په غنیمت ونیول .

بغلان :

به اساس راپور یك منبع جهادی به میدیا مجاهدین ولایت بغلان طی حمله تهاجمی بر پوسته های رژیم کابل مستقر در مسیر راه خنجان - دوشی وپوسته های دره خواجه ، ٤ پوسته رژیم را باهمه امکانات ان فتح نمودند ، ۲۰ تن از ملیشه های رژیم را به اسارت در آورده وعدهٔ از آنها راهلاك ویا زخمی نمودند .

بلخ :

به اساس گذارش میدیا از قول منابع جهادی ولایت بلخ ، قوای هوایی رژیم کابل مناطق آزاد این ولایت راشدیداً تحت بمباردمان وحشیانه خود قرار داده است .

راپور می افزاید طیارات رژیم کابل پنج ولسوالی این ولایت ازجمله ولسوالی دولت آباد راکه چندی قبل بدست مجاهدین فتح گردید هدف حملات خویش قرار می دهد .

راپور رسیده حاکیست که ازتلفات جانی این بمباردمان تاحال اطلاعی در دست نیست ، ولی تلفات مالی این بمباردمان ها خیلی سنگین است .

ننگرهار :

میډیا دجلال اباد ښار څخه پیښور ته درا ټلیو شویو مهاجرینو له خولی رپوټ ورکړی چی درژیم دملیشه وو او عسکری افرادو له خوا دښاریانو دکورونو غلا کول او لوټول خپل وروستی سرحد ته رسیدلی اوله همدی امله دجلال اباد ښار اکثره اوسیدونکی دسرخرود سیمی ته پناوړلو ته مجبور شوی .دغه نوی مهاجرین وایی چی دجلال اباد ښار تقریبًا ټول تخلیه شوی اوله اوسیدونکو څخه خالی کورونه دملیشه وو لخوا تلاشی کیږی اومالونه یی لوټیږی.دغه نویو مهاجرینو زیاته کړی ده چی له جلال اباد څخه سرخرود ته راغلی دغه کډوال مجبور دی چی روان ژمی درژیم اوروسانو دبریدونو په اثرپه ړنگو شویو کورونو کی ، دټولو مشکلاتو سره سره تیر کړی.

برخورد های خونین بین ملیشه های رژیم در هرات

اطلاعات رسیده ازولایت هرات حاکی از وقوع برخورد های خونین بین نیروهای شبه نظامی رژیم در طی یك هفته گذشته در شهر وحوالی میدان هوایی این ولایت بوده است.

قرار اطلاع درین برخورد ها از تانك وسایل نظامی زرهی ، توپخانه وانواع سلاح های سنگین استفاده بعمل آمده که در آن عده زیادی از افراد دو طرف مقتول ومجروح شده وخسارات سنگین مالی نیز ببار آمده است .

همزمان با نشر اخبار وقایع مذکور نجیب رئیس رژیم کابل بتاریخ ۱۷ قوس در کنفرانس مطبوعاتی در محضر خبرنگاران تلاش نمود تا نشان دهد که گویا اخبار منتشره در مطبوعات درین مورد نادرست است .

لازم به تذکر است که وقوع حوادث خونین بین نیروهای شبه نظامی یا ملیشه های رژیم در هرات چیز تازه نیست بلکه در گذشته بارها نیروهای رژیم درین ولایت بجان هم افتاده اند.

اموال وزارت امنیت دولتی (خاد) کابل به لیلام گذاشته شده

کابل ، میدیا :

اطلاعات رسیده از کابل حاکیست ، ازمدتی است که اموال مربوط وزارت امنیت دولتی (خاد) از قبیل وسایط نقلیه ، موبل وفرنیچر ، مفروشات وغیره سازوسامان ان غرض فروش به لیلام گذاشته شده است.

اطلاع میرساند این تصمیم بدنبال تقاضاهای بعضی از سازمان های جدید التشکیل به اصطلاح طرفدار دیموکراسی برای انحلال وزارت مذکورو ادغام بعضی بخش های ان به صدارت ووزارت داخله اتخاذ شده است .

در اطلاع ضمناً آمده است که مشکلات مالی رژیم سبب شده است تا دست به فروش اموال سرشار این وزارت بزنند که در حدود بیش از نصف بودجه رژیم را در هر ماه می بلعد .

بنابر شایعات رژیم میخواهد با تصمیم به اینگونه لیلام نشان دهد که گویا مطابق تقاضای سازمان های مذکور عمل میکند ، درحالیکه وزارت امنیت دولتی در حال حاضر یگانه ارگان خاصی رژیم است که افراد آن دربسیاری از جبهات علیه مجاهدین در جنگ اند.

دعراق حکومت دخپل پوځ ځینی افسران په اعدام محکوم کړل

تهران ، فرانس پرنس آژانس :

دعراق حکومت دخپل پوځ یو زیات شمیر لوړ رتبه افسران پدی تور په اعدام محکوم کړل چی دوی دجمهور رئیس صدام حسین پر ضد په یوه ناکامه کودتا کی لاس درلود.

دغه خبره په ایران کی هستوگن دعراق دحکومت دمخالفو شیعه ډلو یوه ویندوی کړی ده .

دغه ویندوی زیاته کړی چی ددغه پوځیانو په ډله کی ډگر جنرال محسن فیصل او عبدالرحمن ابراهیم هم شامل دی.

دیادونی وړده چی دخلیج دخونړی‌جگړی نه وروسته داځووم ځل دی چی عراقی حکومت دخپل پوځ افسران دکودتا په تور اعداموی .

دمصرد یوه بحری بیړی دډوبیدو له امله (۵۰۰) تنه مسافر مړه شول

قاهره ، دنوای وقت ورځپانه :

دنړیوالوخبری منابعو له قوله ویل شوی دی چی دمصر یوه بحری بیړۍ چی دسعودی عربستان څخه په سره بحیره کی دمصر دسویزد ښار په لور روانه وه دیوی ځوکی سره دجنگیدو له امله په بحرکی ډوبه شوه . خبر ځای زیاتوی په بیړۍ کی ټول (٦٥٤) تنه مسافرسواره وو چی له جملی څخه یی له سلو تنو زیات ژوندی راوتلی او له (۵۰۰)تنوڅخه زیات مړه شوی دی ، مصری مامورینو ویلی دی چی په دی کی زیاتره مسافردمصر استوگن وو چی‌دعمری دادا کولو څخه وروسته خپل هیواد ته راروان وو ، دوی زیاته کړی ده چی خراب موسم دمړیو دراویستو په کار کی خنډونه راپیداکوی .

په روسیه کی دکمونیزم تر زوال وروسته داسلامی تحریك پراختیا

مسکو ، دپاکستان ورځپانه دیوی امریکنی جریدی درپوټ مطابق په شوروی کی دروسی دیکتاتوری اوکمونستی نظامی تر زوال وروسته دمنځنی‌آسیا په جمهوریتونو کی داسلام غوښتنی تحریك پراختیا مومی .

اودغه(٦)اسلامی جمهوریتونه دخپلو گاونډیو اسلامی هیوادو سره دخپلو اړیکو دپراخولوغوښتونکی دی .

نوموړی جریده لیکی په ټول شوروی اوپه تیره بیا دمنځنی آسیا په جمهوریتونو کی له ٦۰ څخه تر ۷۰ میلیونو پوری مسلمان هستوگن دی .

چی اوس ددی مسلمانانو څخه یو زیات شمیر خلك دعربی ژبی په زده کړه بوخت دی ، هغوی دقرآن کریم تلاوت او تفسیر زده کوی ،اوخپل اسلامی عبادات په پوره نظم سره ترسره کوی .

پدی مسلمانو جمهوریتونو کی داسی امام نه لیدل کیږی چی یا دنوی جوماتونو دآبادولویا دزړو جوماتونو دنوی کولو اوپراختیا په فکر کی نه وی .

امریکنی جریده دازبکستان جمهوریت په یوه ختیز ښار کی دیوه امام له قوله لیکی چی ددی‌سیمی د۹۵ زره تنواوسیدونکو لپاره تراوسه ۳ دولتی جوماتونه جوړ شوی ، اولدی پرته نیکمرغه او نیك بخته مسلمانانو په خپل شخصی لگنبت دسرك دواړو غاړو ته تقریباً ۲۰۰ جوماته جوړکړی دي .

آرتش اسرائیل اطراف مسجد اقصی رامحاصره نمودند

بیت المقدس ، ۲۲ قوس :

دسته های زیادی از ارتش وپولیس اسرائیلی اطراف شهر قدیم بیت المقدس ومسجد اقصی را محاصره نموده و دست به تلاشی دراطراف شهر می زنند.

تااز دخول فلسطینی هابخاطر ادای نماز جمعه ممانعت صورت گیرد.

به قرار راپور رادیوی جده عربستان سعودی پولیس وارتش اسرائیل چك پوست های متعددی رادراطراف شهر قایم نموده اند.

قرار یك راپور دیگر باشندگان منطقه سلوان اعم از فلسطینی ها واسرائیلی ها روز گذشته دست به تظاهرات وسیعی زدند وطی ان اقدام اسرائیل مبنی بر جاگزین ساختن یهودیان در منطقه مذکور رامحکوم نمودند.

په کابل کی دروسی مشاورینو موجودیت

کابل ، میډیا:

دکابل له ښار څخه دمیډیا استول شوی خبریال دیولړ متعبرو نظامی منابعوپه حواله رپوټ ورکوی چی دکابل رژیم په ځینو مهمو نظامی اواستخباراتی ادارو کی تراوسه هم روسی مشاورین شته اوپه بیلابیلو برخو کی دمزنور رژیم سره همکاری کوی.

داپداسی حال کی چی په مسکو کی دمجاهدینواو روسی واکدارانو تر منځ په خبرو اترو کی روسی لوری په کلکه وعده ورکړی وه چی دوی به خپل نظامی اوسیاسی مشاورین له کابل څخه وباسی ، اوتر دغه تړون څو ورځی وروسته یی (دنومبر په ۱۹مه) اعلان وکړ چی له کابل څخه یی دخپلونظامی مشاورینو په ویستلو پیل کړی دی.

بل لوری ته دمیډیا خبریال دکابل څخه رپوټ ورکړی چی دکابل رژیم مقاماتو دلونا راکټونو دویشتلو یوه قوی دستگاه چی دبگرام په هوایی ډگر کی ځای پر ځای وه ، له هغه ځای څخه دکابل ښار دریشخورو نظامی فرقی ته چی په دارالامان کی درژیم ددفاع وزارت سره نژدی پرته ده انتقال کړی‌ده.

خبرزیاتوی درژیم دغه اقدام دبگرام پر هوایی ډگر دمجاهدینو ترڅو بریالیو عملیاتو وروسته شوی چی دهغی په ترڅ کی دبگرام دهوایی ډگر دنیونی ویره کیده.

وضع صحی زندانیان درمحبس بدنام پلچرخی رقتبار است

پشاور ، میدیا :

این مطلب رایکی از زندانیان آزاد شده از زندان پلچرخی که غرض تداوی به پشاور آمده است به خبرنگار میدیا اظهار داشته است .

مریض مذکور که بنابر عوامل امنیتی از ذکرنامش خود داری کرد گفت : بسیاری از زندانیان که اکثر شانرا مجاهدین وافراد ضد

رژیم کابل تشکیل میدهد به اثر شکنجه های گوناگون به امراض صعب العلاج ازجمله مرض گرده ، جگر ، سردردی های مداوم ، خونریزی ، تکالیف چشم وگوش وسایر امراض ساری مبتلا شده اند.

زندانی موصوف که حدود سه ماه قبل به نسبت مریضی شدید برای علاج آزاد گردیده می افزاید رژیم کابل از هراس اینکه امراض مهلك

راکه بیشتر ساری اند بدیگران سرایت ندهند از حبس آزادکرده ویا آزاد سازی آن تبلیغات گسترده براه می اندازد که گویا به اصطلاح

مطابق به مشی انسان دوستانه دست به این کار زده است .

این زندانی تازه آزاد شده اظهار داشت بیماری های موجود در زندان پلچرخی همگی ناشی از شکنجه های غیر انسانی است که بروی همه زندانیان اجرا شده وحتیٰ

بسیاری از زندانیان در جریان این شکنجه ها جان می سپارند .

وی از مراجع بین المللی ومؤسسات بشر دوستانه خارجی تقاضا کرد تا دراین زمینه داخل اقدام شوند.

وی از دوکتوران داخلی وخارجی خواهش نمود تا در زمینه تداوی ورهنمایی ویاری دهند .

دهیئت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاون پیښور
ټیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»